قرآني بيان

# غزوهٔ بدر او د

# مولیٰ علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شان

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد
(دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره
په 6 مارچ، کال 2026ء (بمطابق: 16 رَمَضَانُ المبَارَک، کال 1447ھ)

## د جُمعَةُ المبارک

(For Islamic Brothers)



د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 6 مارچ، کال 2026ء (بمطابق: 16 رَمَضَانُ المُبَارَک، کال 1447ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

قرآني بیان

پهٔ نوم

# غزوۀ بدر او د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ شان

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د حضرت رُقَیَّه رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْها ذِکرِ خیر
- د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْه دوه شانونه
- جَنَّت د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْه مشتاق دے
- د تقویٰ دارو 4 صفتونه

پیشکش

اَلْـمَـدِیْـنَـةُ الْـعِـلْـمِـیَـة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ؕ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ؕ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُود شريف فضيلت

د مسلمانانو د څلورم خليفه مولیٰ علي شيرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ مشر شهزاده حضرت اِمام حسن مجتبیٰ رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ فرمائي: رسولِ ذِيشان، مكي مَدَني سُلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: په ما باندې درود لولئ! او سلام راليږئ! بے شكه تاسو چې هر چرته هم يې، ستاسو درود او سلام ما ته رارسيږي- (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! خومره د خوش قِسمتیٖ خبره ده چې محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كوم چې د الله پاك محبوب دے، د دواړو جهانو سلطان دے، د نبيانو نبي دے، اِمامُ الانبيا دے، د فرښتو هم نبي دے، مونږ كه چرې درودِ پاك لولو نو زمونږ د ګنهګارانو ذِكر داسې د رسولِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باركاه ته رسيږي-

ہو نہ ہو آج کچھ مرا ذِکر حضور میں ہوا

ورنہ مری طرف خوشی دیکھ کے مسکرائی کیوں (2)

وضاحت: ښكاري چې نن به زما ذِكر د رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په

---

1 ... مسند ابي يعلیٰ، مسند الحسن بن علی بن ابی طالب، جلد:5، صفحه:167، حديث:6755۔

2 ... حدائقِ بخشش، صفحه:97۔

دربار کښې ضرور شوے وي، ځکه خو دا خوشحالي ما ته ګوري او خنديږي-

مونږ له پۀ کثرت سره درودِ پاک لوستل پکار دي، د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْہُ فرمائي: اِذَا مَرَرْتُمْ بِالْمَسَاجِدِ فَصَلُّوا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم يعنې کله چې د جومات پۀ خوا تيريږئ نو هغه وخت هم پۀ سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درود لولئ! (1)

اللّٰه پاک دې زمونږه ◈ د جومات پۀ ليدو ◈ جومات ته پۀ راتللو ◈ د نـمونځ نه مخکښې ◈ د نـمونځ نه پس بلکې ◈ پۀ ولاړه ◈ پۀ ناسته ◈ پۀ ګرځيدو، پۀ کثرت سره د درودِ پاک د لوستلو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

ذاتِ والا پہ بار بار درود | بار بار اور بے شمار درود
بے عدد اور بے عدد تسلیم | بے شمار اور بے شمار درود
بیٹھتے اُٹھتے جاگتے سوتے | ہو الٰہی مرا شعار درود
شہرِ یارِ رُسُل کی نذر کروں | سب درودوں کی تاجدار درود (2)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْاٰنِ الْكَرِيْم (اللّٰه پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي):

هٰذٰنِ خَصْمٰنِ اخْتَصَمُوْا فِيْ رَبِّهِمْ ۫ فَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّنْ نَّارٍ ؕ يُصَبُّ مِنْ فَوْقِ رُءُوْسِهِمُ الْحَمِيْمُ ﴿19﴾

(پاره: 17، سورۀ الحج: 19)

1 ... القول البديع، الباب الخامس، عند دخول المساجد والمرور...الخ، صفحه: 188۔
2 ... ذوقِ نعت، صفحه: 124123۔

صَدَقَ اللّٰہُ الْعَظِیْم وَصَدَقَ رَسُوْلُہُ النَّبِیُّ الْکَرِیْم صلّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: دا دوه ډلې دي کومې چې د خپل رب په باره کښې جګړه کوي نو د کافرو د پاره د وور جامې پريکړے شوې دي او د هغوئي په سرونو به خوټکيدلې اوبهٔ اچولے کيږي۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! 19 رَمَضَانُ المُبَارَک، پهٔ تاريخي لحاظ سره هٰغه ورځ ده، کله چې مدينه منورې ته يو عظيم زيرے راورسيدو خو قدرت ته وګورئ چې هٰغه وخت د مدينے فضا غمژنه وه، معامله څهٔ داسې وه چې د هجرت دويم کال وو، د رَمَضَانُ المُبَارَک برکتي ورځې وې، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نازبينه شهزادګۍ حضرت رُقَيَّه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا ناروغه وه، پهٔ 12 رَمَضَانُ المُبَارَک پهٔ دويمه هجرۍ نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د غزوهٔ بدر د پاره سفر ورپيښ شو۔ (1) رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل ځوم يعني د مسلمانانو دريم خليفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته شهزادګۍ (يعني د خپلې لور) د خدمت کولو د پاره هم پهٔ مدينه کښې د پاتې کيدو حکم اوکړو او پخپله د صحابهٔ کرامو عَلَیہِمُ الرِّضوَان سره روان شو۔ (2) پهٔ 17 رَمَضَانُ المُبَارَک د حق او د باطل عظيم جنګ يعني غزوهٔ بدر وشو، دا هٰغه ورځ وه، کومې ته چې **اللّٰه** پاک يَومُ الفُرقان وفرمائيله، پهٔ دې ورځ د مکے د کافرانو غرور د خاورو سره خاورې شو، هٰغه کافِران کومو چې اِسلام ختمول غوښتل، پهٔ هٰغه ورځ هغوئي پخپله د خاورو سره خاورې شول۔

---

[1] … المواہب الدنيه، المقصد الاول، مغازيه وسرایاه وبعوثه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَ سَلَّم، جلد:1، صفحه:178 خلاصةً۔

[2] … طبقات ابن سعد، رقم:4099، رقيه بنت رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَ سَلَّم، جلد:8، صفحه:30۔

پۀ غزوۀ بدر کښې د مسلمانانو ښکلې فتح نصيب شوه، پۀ 19 رَمَضَانُ المُبَارَک قاصد (پيغام راوړونکي) د فتح زيرے مدينے منورې ته راوړو، کله چې قاصد راورسيدو نو هغه وخت فضا غمژنه وه ځکه چې د رسولِ ذِيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شهزادګۍ حضرت رُقَيَّه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا وفات شوې وه- کله چې قاصد مدينے منورې ته راورسيدو نو هغه وخت خلق د حضرت رُقَيَّه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا پۀ دفن کولو کښې مصروف وو- (1)

اَللّٰهُ اَكْبَر! زما نبي، خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې دِين د پاره کومې قرباني ورکړې، پۀ دې لازواله او بے مثاله قربانو کښې يوه قرباني دا چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دِين د سر لوړي د پاره د بدر پۀ ميدان کښې وو، دلته شهزادګۍ صاحبه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا د اخرت پۀ سفر باندې روانيدله---!!

حق کی راہ میں پتھر کھائے خوں میں نہائے طائف میں
دین کا کتنی محنت سے کام آپ نے اے سلطان! کیا (2)

## د حضرت رُقَيَّه رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهَا ذِكرِ خير

◈ حضرت رُقَيَّه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نازبينه شهزادګۍ ده ◈ د نبوت د اِعلان نه مخکښې يـې دُنيا ته تشريف راوړلو ◈ د 20 کالو پۀ عمر کښې د دُنيا نه رخصت شوه ◈ هغه د مسلمانانو د دريم خليفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ورومبۍ کور وداني محترمه ده ◈ د هغې د وفات نه پس رسولِ ذِيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلې دويمې شهزادګۍ حضرت اُمِّ کلثوم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا نکاح د حضرت عثمان غني رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ سره اوکړه- ◈ حضرت رُقَيَّه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا دومره اوچته مرتبه لري چې هغې د دِين

---

[1]... بذل القوة، القسم الثانی، الباب الثالث فيما وقع من الحوادث...الخ، الفصل الثانی، صفحه:430 خلاصةً۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:197۔

د پاره درېٖ کرته هجرت اوکړو، د اِسلام پۀ وړومبي دور کښې درې هجرتونه شوي دي: **2 کرته** د حبشي (***Abyssinia***) طرف **او دریم** هجرت د مکے مکرمې نه مدینے منورې ته- حضرت رُقَیَّه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا دا درې واړه هجرتونه کړي - [1] ◈ کله چې پۀ وړومبي ځل هغه او حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د حبشه طرف ته د هجرت د پاره روان شول نو سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: د حضرت لُوط او اِبراهیم عَلَیْهِمَا السَّلَام نه پس عثمان وړومبے کَس دے چاچې د خپل کور والؤ سره د **الله** پاک پۀ لار کښې هجرت کړے دے- [2]

د حضرت رُقَیَّه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نور هم ډیر فضیلتونه دي، که د هغې او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول اولاد مبارک تفصیلي ذِکر لوستل غواړې نو د مکتبة المدینه کتاب **آقا کے شہزادے وشہزادیاں** ولولئ! دا کتاب د دعوتِ اِسلامي د ویب سائټ www.dawateislami.net نه هم ډاؤن لوډ کیدے شي-

خونِ خَیرُ الرُّسُل سے ہے جن کا خمیر | اُن کی بے لَوث طِینَت پہ لاکھوں سلام [3]

**وضاحت:** د چا پیدائش چې د سید المُرسلین، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وینې مبارکې نه دے د هغوئي پۀ بے عیبه او بے داغه سیرت باندې دې پۀ لکونو سلامونه نازل شي-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] … آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم کے شہزادے شہزادیاں، صفحه:7169 خلاصةً-

[2] … مستدرک، کتاب معرفة الصحابة ، ذکر اول من هاجر...الخ، جلد:5، صفحه:60، حدیث:6933-

[3] … حدائقِ بخشش، صفحه:309-

# د آیت مبارک وضاحت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** 17 رَمَضَانُ الْمُبَارَک د غزوۀ بدر ورځ ده او 21 رَمَضَانُ الْمُبَارَک د حضرت عليُّ الْمُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ورځ ده یعني پۀ 21 رمضان د مسلمانانو د څلورم خلیفه حضرت علي الْمُرتضیٰ شیرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ شهید کړے شوے وو۔ [(1)] مونږ د بیان پۀ شروع کښې د 17 سیپارې، د سورۀ حج د آیت: 19 د اوریدو سعادت حاصل کړو، دا آیت مبارک د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ شان کښې او د غزوۀ بدر پۀ بیان کښې نازل شوے دے۔ عظیم صحابئ رسول حضرت ابوذر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ به قَسم خوړلو او فرمائیل به یــې چې 3 صحابۀ کرام کوم چې د غزوۀ بدر پۀ ورځ د ټولو نه مخکښې د کافرانو د مقابلې د پاره ور مخکښې شوي وو یعنې حضرت علي، حضرت حمزه او حضرت عُبیده بن ثابت رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم، دا آیت (او د دې نه مخکښې 6 آیتونه) د دې 3 صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم پۀ حق کښې نازل شول۔ [(2)]

**پۀ روایتونو کښې دي:** د غزوۀ بدر پۀ ورځ چې کله د مسلمانانو او کافرانو لښکر یو بل ته مخامخ شو نو عُتبه، شیبه او ولید بن عتبه کوم چې د مکے لوئي سرداران او غیر مسلمه وو، هغوئي درې واړه د لښکر نه راوتل او مخکښې میدان ته راغلل او غږ یــې اوکړو: اے مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم)! زمونږ د مقابلې د پاره ځوانان راولیږئ! د هغوئي پۀ دې غږ اوریدو ځینې اَنصار صحابه [رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم] ودریدل، سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: تاسو کښینئ! بیا یــې وفرمائیل: اے بنو هاشِم! تاسو ور وړاندې شئ! د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ دې حُکم اوریدو حضرت مولیٰ علي، حضرت حمزه او حضرت عبیده رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم ور وړاندې شول، حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د عُتبه سره، حضرت

---

[1] … تاریخ ابن عساکر، رقم:4933، علی بن ابی طالب، جلد:42، صفحه:587۔

[2] … تفسیر قرطبی، پاره:17، سورۀ الحج، زیر آیت:19، جلد:6، جز:12، صفحه:17۔

حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د شيبه سره او حضرت عبيده رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د وليد سره مقابله اوکړه او په لږ ساعت کښې يې درې واړه غير مسلمه دوزخ ته وليږل۔ (1)

حضرت ابو جعفر محمد باقر بن علي زين العابدين رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: د بدر په ورځ د اسمان نه يوې فرښتې اواز اوکړو:

لَا سَيْفَ اِلَّا ذُو الْفَقَارِ | وَ لَا فَتٰى اِلَّا عَلِيٌّ

**ترجمه:** اصلي توره خو ذو الفقار (يعنې د رسولِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم توره) ده او حقيقي ځوان يعنې بهادر خو حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دے۔ (2) سُبْحٰنَ اللّٰه!

مُرتَضیٰ شیرِ حق اَشْجَعُ الْاَشْجَعِیں | ساقیِ شیر و شربت پہ لاکھوں سلام
شیرِ شمشیر زَن شاہِ خیبر شکَن | پرتَوِ دستِ قدرت پہ لاکھوں سلام (3)

**وضاحت:** په حضرت علي الْمُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ◈ د اللّٰه پاک په ازمري ◈ په بهادرو کښې د ټولو نه په لوئي بهادر او ◈ په ميلمنو باندې پې او شربت خښوونکي مولائے کائنات رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ باندې دې په لکونو سلامونه نازل شي ◈ مولا علي الْمُرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د ازمري په شان په بهادرئ سره توره وهوونکے ◈ د خيبر دروازه ماتوونکے ◈ د دَستِ قُدرت فيضان موندونکے دے، په هغوئي باندې دې په لکونو سلامونه نازل شي۔

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** په دې موقع باندې دا آيتونه نازل شول، اللّٰه پاک فرمائي:

---

[1] … سيرة ابن ہشام، غزوة بدر الکبریٰ، مقتل الاسود بن المخزومی، جلد:1، جز:2، صفحه:214۔

[2] … الرياض النضرة، جز:3، الباب الرابع، الفصل السادس، ذکر اختصاصه بتنويه...الخ، صفحه:134۔

[3] … حدائقِ بخشش، صفحه:313 ملتقطًا۔

هٰذٰنِ خَصۡمٰنِ اخۡتَصَمُوۡا فِیۡ رَبِّهِمۡ
(پاره:17، سورۂ الحج:19)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: دا دوه ډلې دي کومې چې د خپل رَبّ په باره کښې جګړه کوي۔

دا ټول 6 کسان وو، 3 غیر مسلمه: عتبه، شیبه او ولید او 3 صحابۂ کرام عَلَيهِمُ الرِّضوَان: ◈ مولیٰ علي ◈ حضرت حمزه او ◈ حضرت عبیده (رَضِيَ اللهُ عَنْهُم)، په دې ځائے کښې دوئي ته بیلې بیلې ډلې وفرمائیلے شوې او د دې 2 ډلو د انجام په باره کښې اِرشاد وفرمائیلے شو۔ نو ◈ عتبه ◈ شیبه او ◈ ولید کوم چې غیر مسلمه وو، د هغوئي 3 سزاګانې بیان کړے شوې، اِرشاد دے:

فَالَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا قُطِّعَتۡ لَهُمۡ ثِیَابٌ مِّنۡ نَّارٍ ؕ یُصَبُّ مِنۡ فَوۡقِ رُءُوۡسِهِمُ الۡحَمِیۡمُ ﴿۱۹﴾ یُصۡهَرُ بِهٖ مَا فِیۡ بُطُوۡنِهِمۡ وَ الۡجُلُوۡدُ ﴿۲۰﴾ وَ لَهُمۡ مَّقَامِعُ مِنۡ حَدِیۡدٍ ﴿۲۱﴾
(پاره:17، سورۂ الحج:19 21)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو د کافرو د پاره د وور جامې پریکړے شوې دي او د هغوئي په سرونو به خوټکیدلې اوبۀ اچولے کیږي۔ چې هغې سره به کوم څۀ چې د هغوئي په خیټو کښې دي هغه ټول او څرمنې به یې وسوزي۔ او د هغوئي د پاره د اوسپنې ګرزونه دي۔

دا د هٖغه غیر مسلمو 3 سزاګانې دي: **(1):** دوئي ته به د وور(***Fire***)جامې اغوستلے شي **(2):** د دوئي په سرونو باندې به خوټکیدلې اوبۀ(***Boiling Water***)اچولے شي، د کومو سره چې به د دوئي د خیټې دننه څیزونه او څرمنې وسوزیږي **(3):** او دوئي به د اوسپنې(***Iron***)په ګرزونو (مثلاً څټکونو) وهلے شي۔

د **اللہ** پاک پناه! د **اللہ** پاک پناه--!! **اللہ** پاک دې مونږ د دوزخ د سختو سزاګانو نه محفوظ کړي- اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیِّیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

| | |
|---|---|
| سُن رکھا ہے ہوتا ہے بڑا سخت اندھیرا | تُربت میں مِری نُور کا فانوس جلانا |
| محشر میں حساب آہ!میں دے ہی نہ سکوں گا | رَحمت نہ ہوئی ہوگا جہنَّم میں ٹھکانا |
| یا شاہِ مدینہ! مہِ رَمضان کا صَدقہ | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا(1) |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** درې صحابهٔ کرام حضرت مولیٰ علي، حضرت حمزه او حضرت عبیده رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم کوم چې د بدر په ورځ د ټولو نه مخکښې لاړل او غیر مسلمه يـې دوزخ ته ورسول، **اللہ** پاک د هغوئي د 4 اِنعامونو دلته ذِکر اوکړو، اِرشاد دے:

اِنَّ اللّٰہَ یُدۡخِلُ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِہَا الۡاَنۡہٰرُ یُحَلَّوۡنَ فِیۡہَا مِنۡ اَسَاوِرَ مِنۡ ذَہَبٍ وَّ لُؤۡلُؤًا ؕ وَ لِبَاسُہُمۡ فِیۡہَا حَرِیۡرٌ ﴿۲۳﴾ وَ ہُدُوۡۤا اِلَی الطَّیِّبِ مِنَ الۡقَوۡلِ ۚۖ وَ ہُدُوۡۤا اِلٰی صِرَاطِ الۡحَمِیۡدِ ﴿۲۴﴾

(پاره:17، سورۀ حج:23-24)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه **اللہ** به ایمان والا او نیک اعمال کوونکي هُغه باغونو ته داخلوي د کومو نه لاندې چې نهرونه بهیږي. هغوئي ته به په هُغه باغونو کښې د سرو زرو ګړې [بنګړی] او ملغلرې وراچولے کیږي، او په جَنَّتونو کښې به د هغوئي جامې ریښم وي- او هغوئي ته د پاکیزه خبرې هدایت ورکړے شواو هغوئي ته د ټولو تعریفونو

---

[1] ... وسائلِ بخشش، صفحه354353 ملتقطًا:۔

لائق (اللّٰه) لاره وښودلے شوه۔

دا څلور اِنعامونه دي: (1): دوئي ته به جنَّتي باغونه عطا کولے شي (2): دلته به دوئي ته د سرو زرو کړې (*Golden Bracelets*) او لعلونه (*Pearls*) اچولے شي (3): د دوئي جامې مبارکې به د ريښمو (*Silk*) وي (4): دوئي ته د پاکې خبرې هدايت اوکړے شو او د ټولو خوبيانو والا رَبِّ کريم لاره ورته وښودلے شوه۔

## د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْہُ 2 شانونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! پۀ دې ښکلو ښکلو آيتونو کښې د مسلمانانو د څلورم خليفه حضرت علي المُرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ 2 شانونه بيان کړے شول:

## (1): مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْہُ جنَّتي دے

وړومبے شان خو دا بيان کړے شوے چې پۀ دې آيت کښې هغوئي ته د جَنَّت، د هٰغه ځائے د بهترينو جامو او کالو زيرے ورکړے شوے دے۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ قطعي يقيني جَنَّتي دے بلکې يواځې هغوئي نۀ ټول صحابۀ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم جَنَّتيان دي۔

| | | | |
|---|---|---|---|
| هر صحابيِ نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | ټولې صحابياني هُم! | جَنَّتي جَنَّتي |
| څلور ياران د نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | حضرتِ صديق هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| او عُمر فاروق هُم | جَنَّتي جَنَّتي | عُثمانِ غني | جَنَّتي جَنَّتي |
| فاطِمه او علي | جَنَّتي جَنَّتي | دي حسن حُسين هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| والدين د نبي | جَنَّتي جَنَّتي | هره بي بي د نبي | جَنَّتي جَنَّتي |
| دے مُعاوِيه هُم | جَنَّتي جَنَّتي | او ابو سُفيان هُم | جَنَّتي جَنَّتي[1] |

1... وسائلِ فردوس، صفحه:53۔

## د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوږ ملګرے

د حضرت زيد بن ابو اَوفیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، سرکارِ علي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مخاطب کړو او اوئې فرمائيل: اے علي! تهٔ او زما لور فاطِمه دواړه به په جَنَّت کښې زما سره زما په محل کښې اوسيږئ، بيا نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا آيت تلاوت کړو: (1)

اِخْوَانًا عَلٰی سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِیْنَ ﴿۴۷﴾ (پاره:14، سورۂ الحجر:47)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هغوئي به په خپل مينځ کښې وروڼه وروڼه وي، يو بل ته مخامخ به په تختونو ناست وي-

## جنَّت د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مشتاق دے

د حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: جنَّت د دريو کسانو مشتاق دے: (1): علي (2): عمّار (3): او سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم - (2)

## د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ جنَّتي باغونه

حضرت علي المُرتضیٰ، شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: زهٔ د رسولِ رحمت، مالِکِ جنَّت صَلَّی اللّٰہُ

---

[1] … فضائل الصحابه، فضائل علی رَضِیَ اللّٰہُ عنه من حديث ابی بکر...الخ، جز:2، صفحه:667، حديث:1137۔

[2] … ترمذی، ابواب المناقب عن رسول الله، باب مناقب سلمان...الخ، صفحه:860، حديث:3802۔

عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د مدينے پۀ يوه لاره باندې تيريدم، مونږه د يو باغ پۀ خوا راتير شو، ما ووئيل: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! دا څومره ښکلے باغ دے---!! اوئې فرمائيل: لَكَ فِي الْجَنَّةِ اَحْسَنُ مِنْهَا (يعنې اے علي!) تا ته به پۀ جنَّت کښې د دې نه هم ښائسته باغ درکولے شي- بيا مونږه تللو او د يو بَل باغ پۀ خوا راتير شو، ما عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! دا هم څومره ښکلے باغ دے- بيا يې اوئې فرمائيل: لَكَ فِي الْجَنَّةِ اَحْسَنُ مِنْهَا (يعنې اے علي!) تا ته به پۀ جنَّت کښې د دې نه هم ښائسته باغ درکولے شي- هم داسې پۀ تللو تللو مونږه د 7 باغونو پۀ خوا راتير شو، نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هر ځل هم دغه وفرمائيل: لَكَ فِي الْجَنَّةِ اَحْسَنُ مِنْهَا (يعنې اے علي!) تا ته به پۀ جنَّت کښې د دې نه هم ښائسته باغ درکولے شي- (1)

| | |
|---|---|
| میں گُنہگار ہوں کا مریض اور آپ ہیں میرے طبیب | دیجئے! مجھ کو شِفا مولیٰ علی مشکل کُشا! |
| مغفرت کروایئے! جنّت میں لے کے جایئے! | واسِطہ حسنین کا مولیٰ علی مشکل کُشا! |
| اشکبار آنکھیں عطا ہوں، دِل کی سختی دُور ہو | دیجئے خوفِ خُدا مولیٰ علی مشکل کُشا! |
| بھیک لینے کے لئے دربار میں منگتا ترا | لے کے کشکول آگیا مولیٰ علی مشکل کُشا! |
| کیوں پھروں در در بھلا خیرات لینے کے لئے | میں فقط منگتا ترا مولیٰ علی مشکل کُشا! (2) |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## (2): مولیٰ علي رَضِیَ اللہُ عَـنْهُ د دِين د پاره ډال دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! پۀ دې آيتونو مبارکو کښې حضرت علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته خَصَم

---

[1] ... مسند ابی یعلیٰ، مسند علی بن ابی طالب، جلد:1، صفحه:191، حديث:565-

[2] ... وسائلِ بخشش، صفحه:522-524 ملتقطاً-

فرمائیلے شوےدے، یعنې هغوئي هُغه ذِیشان دے کله چې د **اللّٰه** پاک د دِین پۀ مقابله کښې څوک راوځي، د **اللّٰه** پاک د ذات او د صفتونو پۀ باره کښې ګستاخي کولے شي نو هغوئي د ځان نه ډال جوړ کړي او د دِین دخدمت د پاره ودریږي۔

## مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْہُ او د قرآن خِدمت

صحابئ رسول حضرت ابو سعید خدري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: یو ځل مونږ د رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تشریف راوړلو اِنتظار کولو، پۀ دې کښې رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کور مبارک نه بهر تشریف راوړلو، مونږ ټول د هر کلي د پاره ودریدو۔ د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نعل شریف (یعنې د پیزار مبارک) د ګنډلو حاجت وو، نو رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پیزار مبارک مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته عطا کړلو، هغوئي پیزار مبارک ګنډلو - هُغه وخت رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: لکه څنګه چې ما ته د قرآنِ کریم د نازلیدو پۀ باره کښې د غیر مسلمو سره مقابله کول دي، پۀ تاسو کښې یو ګس دے، هغه به د قرآنِ کریم د تاوِیل پۀ باره کښې مقابله کوي (یعنې ځینې بد باطنه به د قرآنِ مجید معانې بدلې کړي، پۀ تاسو کښې به یو ګس د هُغه بد بختو سره مقابله کوي)۔ بیا نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: هغه دا دے کوم چې اوس زما پیزار ګنډي۔ (1)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا واقعه د کومې غیبي خبر چې رسولِ ذِیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ورکړو، دا پۀ 38 هجری وشوه، د کوفې اوسیدونکي ځینې منافقان خلق وو، هغوئي د قرآني آیتونو غلط مطلبونه ویستل شروع کړل او د هُغه غلطو مطلبونو پۀ نوم هُغه بدبختو پۀ حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ باندې د کُفر فتویٰ هم ولګوله (2) او بر نا حقه یې

---

[1]… ترمذی، ابواب المناقب عن رسول اللہ، مناقب علی بن ابی طالب، صفحہ:846، حدیث:3724۔

[2]… تاریخ ابن عساکر، رقم:4933، علی بن ابی طالب، جلد:42، صفحہ:467465 خلاصةً۔

قتل او جنګ بازار ګرم کړو- حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هغوئي ډېر پوهه کړل خو هغوئي پۀ سمه لار نۀ شول، اخر حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د هغوئي سره جنګ اوکړو او هغوئي يـې دوزخ ته ورسول- [1]

د **الله** پاک پناه! **الله** پاک دې مونږ ټول د شِرک او کُفر نه پۀ اَمان کړي، **الله** پاک دې زمونږه پۀ اِیمان باندې ثابت قدمي نصیب کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دِين د پاره ډال جوړ شئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د دې نه علاوه چې هم د حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سيرت مبارک (***Biography***) ولولی نو معلومه به شي درته چې هغوئي په حقه د دِين د پاره ډال وو، د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نافرماني به چې کيدله نو هغوئي به د موقعې پۀ مناسبت سره، پۀ حکمت سره د حق اواز پورته کولو-

مونږ له دا صفت اِختيارول پکار دي ◈ که د **الله** پاک نافرماني وي ◈ او که د رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نافرماني وي ◈ د دِينِ اِسلام خِلاف ورزي اوکړے شي ◈ ګناهونه اوکړے شي نو مونږ له پکار دي چې د خپل وَس مطابق، د خپل حيثيت مطابق، د موقعې پۀ مناسبت سره، پۀ حکمت سره ګناهونه منع کړو- زمونږه آقا، زمونږه مولیٰ، د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت عليُّ المُرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي:

---

[1] … البداية والنهاية، خلافة على بن ابى طالب ، مسير امين المؤمنين على الخوارج، جلد:4، صفحه:308307 خلاصةً۔

تبلیغ (یعني د نیکۍ دعوت ورکول) بهترین جهاد دے۔ [1] نور فرمائي: کوم زړۀ چې نیکي، نیکي اونۀ ګڼي او ګناه، ګناه اونۀ ګڼي نو د هغه (زړۀ) بره حصه به داسې ښکته کولے شي لکه څنګه چې تیلۍ [یعني ګوتۍ] اُلټا کړے شي او د تیلۍ دننه څیزونه خوارۀ وارۀ پریوځي۔ [2]

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** نن سبا هر طرف ته ګناهونه کولے شي د دې پورې چې پۀ ظاهره نیک پۀ نظر راتلونکي کَس ته ورنزدې شې نو هغه هم بعضې وخت د عقیدې پۀ خرابۍ، د ژبې پۀ بے احتیاطو، د بد نظرۍ او د بدو اخلاقو پۀ افتونو کښې اخته پۀ نظر راځي، آه! هر طرف ته ګناهونه او بس تش ګناهونه پۀ نظر راځي! نیکان خلق بے شکه چې موجود دي خو د هغوئي شمیره ډیره کمه شوې ده۔ پۀ داسې حالاتو کښې پۀ مونږ ټولو باندې لازم دي چې د حق دِین خدمت اوکړو، د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خبرې خلقو ته ورسوو او د ګناهونو د سیلاب مخې ته بند وتړو۔ **الله** پاک دې مونږ ټولو ته د ځان او د نورو د اِصلاح د کوشش کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د تقویٰ دارو 4 صفتونه

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ شانونه خو بے شمیره دي، رښتیا خبره خو دا ده چې د حضرت عليُ المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خو څۀ کړې--!! مونږ د یو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هم پوره شان بیانولے نۀ شو--!! بس **الله** پاک دې زمونږه د دې پاکو خلقو

---

1 … تفسیر کبیر، پاره:4، سورۀ آل عمران، زیر آیت:104، جلد:3، صفحه:316۔

2 … مصنف ابن شیبة، کتاب الفتن، ماذکر فی فتنة الدجال، جلد:8، صفحه:667، رقم:124 125۔

یعنې د صحابۀ کرامو او اهلِ بیتو رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُم رښتوني غلامي نصیب کړي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! پۀ دواړو جهانو کښې به مو بیړۍ پورې وځي-

د رَمَضَانُ الْمُبَارَک برکتي ورځې دي، د نیکو کولو، تقویٰ موندلو او د جَنَّت د ګټلو ساعتونه دي، پۀ اخره کښې راځۀ چې د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ یو ښکلے نصیحت واورو- د مسلمانانو څلورم خلیفه امیر الْمُؤمِنِین حضرت مولا علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ فرمائي: تقویٰ د څلورو خیزونو د مجموعې نوم دے: (1):اَلْخَوْفُ مِنَ الْجَلِيْلِ (یعنې د **اللّٰه** پاک نه ویریدل)(2):اَلْعَمَلُ بِالتَّنْزِيْل(یعنې پۀ قرآنِ کریم باندې عمل کول) (3):اَلْقَنَاعَةُ بِالْقَلِيْلِ(یعنې پۀ لږه باندې راضي اوسیدل)(4):اَلْاِسْتِعْدَادُ لِيَوْمِ الرَّحِيْلِ (د اخرت د سفر تیاري کول)۔[1]

یعنې دا 4 صفتونه چې د کوم خوش قِسمته نصیب شي، هغه پرهیزګاره جوړیږي- **اللّٰه** پاک دې مونږ.ته د دې څلور واړو صفتونو د اِختیارولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## *Muslim's Funeral* (کَفَن دَفَن) ایپلي کیشن

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د *I.T* ډیپارټمنټ له خوا مختلف ایپلي کیشنز جاري کړے شي دي، پۀ کومو کښې چې یو موبائل ایپلي کیشن دے: *Muslim's Funeral* (کَفَن دَفَن)- پۀ دې موبائل ایپلي کیشن کښې د مَړي د غُسل او کفن دفن وغیره پۀ باره کښې ډیر اهم معلومات ورکړے شوي دي او ◈ یوه خاص خبره دا ده چې مَړي له به غُسل څنګه ورکوې؟ کَفَن به ورته څنګه اچوې؟ د دې د

[1]… بستان العارفین ، تقوی کا بیان، صفحه:107۔

عملي طريقې د پاره ***Animated Videos*** [متحرک ويډيوګانې] هم شامِلې دي- ◈ د مړي د غسل او کفن په باره کښې د معلوماتو د پاره په مختلفو ژبو کښې کتابونه هم شته کوم چې په اسانۍ سره په پي ډي ايف ***PDF*** کښې ډاؤن لوډ کيدے شي ◈ د دې ايپلي کيشن په ذريعه تاسو د دعوتِ اِسلامي د مجلس تجهيز و تکفين د اِسلامي ورونړو سره هم رابطه کولے شئ او ◈ د جنازې د ټولو ضروري خيزونو په باره کښې معلومات حاصليدے شي، زده يې کړئ او د هغې مطابق عمل اوکړئ- تاسو هم په خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انسټال کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!  صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بيان په اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په ګوته کول)

**مسئله:** د روژې په حالت کښې په مسواک کولو کښې هيڅ باک نشته-

**وضاحت:** په خلقو کښې دا خبره مشهوره ده چې د روژې په حالت کښې مسواک نشي کولے- په اصل کښې داسې نۀ ده، اصلي مسئله دا ده چې د روژې په حالت کښې هر قِسمه مسواک کولے شئ د دې په کولو روژه نۀ ماتيږي بلکې څنګه چې په عامو ورځو کښې مسواک کول سُنَّت دي هم دغه شان د روژې په حالت کښې هم سُنَّت دي- آؤ! البته دا خبره ياده ساتئ چې که روژه درته ياده وي او د مسواک د چقولو سره ګيرۍ لرې کيږي يا خوند يې محسوسيږي نو د چقولو نه بچ کيدل پکار دي- کوم مسواک چې ګيرۍ کوي او د روژې ياديدو په حالت کښې د مسواک څۀ ګيرۍ حلق ته لاړه شي نو په

دېر باندې روژه ماتېږي - [1]

**دا هم یاد ساتئ!** چې دا مسئله صرف د مسواک په باره کښې ده، د خوږېږي چې د تو ږ پیسټ خبره ده نو د دې نه علمائے کرام منع فرمائي چې د روژې په حالت کښې تو ږ پیسټ مهٔ کوی- ځکه چې د تو ږ پیسټ د نرو ذرو حلق ته د ننوتو ډېره اندیښنه وي، خُدائے دې نهٔ کړي که د دې ذرې حلق ته لاړې نو روژه به ماته شي-

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته د صحیح اِسلامي احکامو د زده کولو او په هغې باندې د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

# یَا مُؤَخِّرُ

څوک چې هره ورځ **یَا مُؤَخِّرُ** سل [100] کرته لولي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم!
د هغهٔ ټول کارونه به پوره کیږي- [2]

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-
اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] ... جنات کو برا بھلا کہنا کیسا؟، صفحه: 10-
[2] ... مدنی پنج سورہ، صفحه:255-